# Mixed Dances of Indigenous Pashtun Society: Lost part of Social History of Zhob Valley The

# "برګه امۍ" د لرغوني پښتني ټولنې ګډه اتڼ: دژوب د ناوې د ټولنيز تاريخ ورکه پانګه

**Dr. Barakat Shah Kakar**★

**Abstract:**

The hegemonic narratives regarding traditional Pashtun society as violent, misogynist and patriarchal have been prevailing through contemporary electronic and print media, text books and social media which has reproduced the colonial and orientalist's stereotypes regarding traditional Pashtun society. The ways of Pathans (Pashtuns) are most of the time structured around a set of hierarchical binaries and the inherent strengths, aesthetics and values stemmed in creative expression are always made invisible. This paper is going to unveil the mixed dance of men and women during marriages and cultural festivals held in the public spaces of Zhob valley of Northern Balochsitan. It will be revealing to know that this practice of men-women mixed dances was also common in and North and South Waziristan of KP province. The mixed dance known as "Braga Aamai" and "Bragai-Attan" in Zhob valley and Waziristan respectively had various modalities of couple dances and men-women poetical- dance competitions and creative expression. Unpacking the practice of these mixed dances helps out the historians and folklorists to unearth the social and cultural histories which remained part of the unprecedented reservoir of oral tradition.

__Key Words:__ **Pashtun Culture, Social History, *Bragga Ammai*, Oral Tradition, Cultural Process, Mixed Dance**

## د موضوع لنډه پېژندګلو:

د اتڼ ، نڅا، ناچ ، رخص (رقص) د پېل، غرض و غايت، ټولنيز، اخلاقي او مذهبي جواز په حقله بېخي پراخ علمي او هنري بحث شتون لري. د نڅا يا ناچ لومړۍ نخښې نښانې په کومو تهذيبونو کښې په څه بڼهٔ موندل شوي دي او نڅا دڅه ډول ټولنيز، معاشي، روحاني يا فني ورتيا په ټېکري کښې نغښتې وه ، دا او داسې ډېرې پوښتنې دي چې د هنر او موسيقۍ د تاريخ پاڼې ځينې ډکې دي. په دې مقاله کښې زمونږ دموضوع محور هغهٔ پښتني اتڼ دے چې پکښې به نارينه او ښځينه د بې

★ Assistant Professor University of Baluchistan, Quetta

څه امتیازه ګډون کولو، او د نارینه تر څنګ به ښځو هم د اتڼ د مستو نارو او د ډول او سورنا په زیر وبم کښې د خپل تخلیقي صلاحیت اوهنر د سیالۍ اظهار کولو. د دې تحقیقي موضوع په حقله لیکلې مواد بېخي کم په لاس راغلي دي، ځکه د دې موضوع سره د انصاف کولو لپاره د سهیلي پښتونخوا خصوصا د ژوب د ناوې دځینو فوکلورستانو او د برګي اتڼ یا کمرې امې د ګډون والو سره انفرادي مرکې شوي دي. د دغو مرکو په ترڅ کښې د برګي امې دتاریخ، فني جوړښت،نارو، د نارینه او ښځینه د ګډون ټولنیز جواز، او داسې نور اړخونه رابرسېره شوي دي.

## اتڼ، نڅا او رقص: د ټولنیز تاریخ لرغوني پانګې:

لکه څه ډول چې د اولسي شاعرۍ، موسیقۍ،قیصې او ډرامې پر تاریخ چې د وختونو ګرزه پرته ده، هم دغهٔ ډول د فوکلوري روایت د نورو تخلیقاتو په ډول د اتڼ د پېل او ارتقا تاریخ هم دراتلونکي ذماني لپاره نه دی ژغورل شوی. یقینا به هم دغهٔ وجه وي چې لکه څه ډول چې د شاعرۍ، موسیقۍ یاقیصې بېلا بېل اجزا، او صنفونه په ډېره دقیقه توګه ورشل شوي او منظم شوي دي، هم هغهٔ ډول تجزیاتي یا جزیاتي تفصیل مونږ نڅا او اتڼ لپاره په لیکلي بڼه ډېر کم لرو. په کلیوال او کوچېاني ژوند کښې اتڼ، نڅا او د هنر نور فورمونه د کلتور د داخلي حرکت په سوب خپل ارتقائي ګامونه اوچت کړي دي. البته د دربارونو او د ښارونو پرته په کلیو کښې نڅا اواتڼ د آرټ دسطحې څخهٔ پاسه خیژي او د ژوند په رند او روند راګډېږي. د ژوند او آرټ د بېلتون او یو والي دغهٔ منظر مونږ په ښه توګه د اتڼ او نڅاپه مظهر (پدیده) کښې لیدلی شو.

البته دا خبره پر خپل ځای د منلو ده چې اتڼ یا رقص د انساني احساساتو د اظهار یو بنیادي او لرغونی مظهر پاتي شوی دی. سر محقق علي محمد منګل په خپل کتاب "د اتڼ د نارو هینداره" کښې د اتڼ پر تاریخ څه داسې نظر اچولی دی:

"د فورم او جوړښت له مخې د ښکلي هنر په لومړنیو وختو کښې په ځانګړیو ډولو "غمګین"، خندونکي، د یو داستان څرګندونکي، یا یوازې د یوې پیښې د بیانولو په بڼه تر سره کېدوه (۱)"

هم دا ډول ځیني وخت به نڅاوې او اتڼونه دمذهبي رسوماتو او عباداتو برخه هم وي، د هندومت د لرغونو مذهبي اثارو څخه په هر حال دا جوته ده چې په هندوستان کښې د رقصونو او نڅاوو بېلا بېل ډولونه په اصل کښې د دې سیمې د مذهبي رسوماتو نتیجه وه. د کلکته پوهنتون د سنسکرت د څانګې یوه ښوونکې په خپله مقاله کښې دغهٔ خبره په لنډو ټکو کښې داسې کړې ده.

"Dances of India were to give symbolic expressions which are also enlightened to religious ideas."(۲)

ژباړهٔ: د هندوستان په نڅاوو کښې چې کوم علامتي اظهار مونږ ته په نظر راځي هغهٔ د مذهبي نظریاتو څخه الهام اخیستی دی.

پخواني انسان چې به کله پر فطرت، ځناورو يا د انسانانو پر مخالف ډله لاس بري شو د خوشحالۍ به په ګډا شو ،د اوږدې وچکالۍ وروسته چې به کله باران وشو او اوبو په سوب به و ژوند ته يو څه هيله پېدا شوه نود صحرا انسانان به هم دخوشحالۍ ياتشکرلپاره په نڅا شول. د امريکا د پخوانيو يا لرغونو اوسېدونکو د "باراني نڅا" دود ډېرو بشر پوهانو او ټولنپوهانو د خپلو څېړنو مرکز ګرځولے دے، چې په بنيادي توګه نڅا يو روحاني عمل ګڼي او د دې سره اسطوره يا قيصه دا جوړه شوې ده چې پر مځکه د باران نه وربدل په اصل کښې د ناپاکو اروحونو په وجه وي، او کله چې نڅا وشي نو مځکه د بدو اروحونو څخه پاکه شي. په زړۀ پوري خبره دا ده چې تر کال۱۹۳۰ پوري د امريکا دغۀ مستعمري قبيلو د باران د نڅا سره سره د "لمر نڅا" او د "اروحونو نڅا" هم کوله چې ورسته بيا دغۀ نڅاوې غېر قانوني وګرځول شوې(۳). نڅا د روحاني دود په توګه په ډېرو مذهبي کتابونو کښې او د تصوف په ډېرو سلسلو کښې وجود لري، په عهدنامه قديم يا د زبور او توريت ټولګه روايت کوي چې "حضرت داؤد عليه السلام په خپل ټوله زور سره د خداے و مخ ته په رقص کښې ورک شو".(۴)

د اتڼ، رقص او نڅا ساختياتي څېړنه دا حقيقت جوته وي چې دغه د انساني تخليقاتو يوه داسې مجموعه ده چې تشکيل ئې د انساني ټولنې د معاشي، مذهبي او ټولنيزو رغښتونه تر اثر لاندې شوے دے. د بېلګې په توګه د نړۍ هغۀ مدنيتونه چې د لويو لويو دريابونو پر څنډو اباد شوي دي او په معاشي توګه زرعي ټولنې پاتي شوي دي، دلته به د کښت د لو يا کټائي يوه داسې موقع وه چې انسانان به له خوښۍ او تشکر د احساس په ثر کښې په ګډا شول. د لرغوني مصر، بابل، سوميريانو، سيند او هيند د بېلابېلو ټولنو تاريخ هم دغۀ خبره جوتوي.

نڅا د مذهب د روحاني او عقيدوي دود تر څنګ د باچهانو په دربارونو کښې هم خاک پاشي کړې ده، د زرعي انقلابه وروسته (لس زره کاله وړاندې) کله چې انسانان دلويو او مهربانه سيندونو پر کنارو ميشته شول، زراعت د انسان د خورک پخوانۍ ستونزه حل کړۀ، ښکاري ډلې په کليو کښې مېشته شوې او کلي په ښارونو بدل شول، او بيا د دې ښارونو د ژغورنې لپاره چې کوم اتل کمندان جوړ شو هغۀ ورو ورو خپل ځان باچا کړو او هم دغۀ ډول دربار او سرکار هم په وجود کښې راغلو، نڅا هم د انسان سره د غارې څخه را ؤوتله ، اوس د انسان په جمالياتي زوق کښې هم نازکې راغلې وه ځکه نو دلته مونږ وينو چې د نې و سرود محفلونه او په هغۀ کښې د نازک اندامو انجونو او هلکوانو نڅا هم ورو ورو د نشاط او خوشحالۍ زريعه جوړۀ شوه او له درباره څخه دغۀ لطيف فن و ښار، ګلۍ او کوڅې ته را ؤ وتے. په پخواني مصر کښې د نارينه او ښځو د نڅا تاريخي شواهد لتېل شوي دي ، سندر غاړې ته به "عالمه" نڅا کونکې ته به "غازيه" وئيل کېدل، کوم نارينه چې به نڅا کوله په لرغوني مصر کښې به ورته " کرج" وئيل کېده -(۵)

اتڼ د پښتنو په ذياترو کليوالو او قبائلي سيمو کښې د لږ و کم توپير سره هرځاے شتون درلودلے

دے. نارینه او ښځینه د خوشحالیو د اظهار لپاره د ډول، سورنا، دریا (دف)، چغکې، چورلۍ، یا غومبر (دخولې مخصوصه ږغونه)او شپېلکې په مرسته ګډېږي، ګډېدل که څۀ هم د نڅا لپاره کارېږي خو د ټکي د جوړښت او د اتڼ د اجتماعي فعالیت په سوب دغۀ ټکے هم د "ګډېدو" یا شرکت کولو په مفهوم کښې به کارول شوے وي، چې وروسته بیا د انفرادي یا پېښه ورانه نڅا سره معنا ګډه وډۀ شوې ده.اتڼونه د اخترونو، ودونو، کوزدو ، د کوشني د پېداکېدو پر مهال کېږي،البته په ځینو سیمو کښې د اختر مېلې ، د پسرلي (نوروز) او د فصلونو د کټائي مېلې هم جوړېدلې چې تر ټولو مهمه برخه به یې اتڼونه وو. د ۱۹۸۰ تر لسیزې پورې لا د سهیلي پښتونخوا او کندهار په سیمو کښې د چمن، ګلستان ، او د شالمار مېلې ډیرې مشهوره وې چې د اتڼ و هنر او فکلوري نڅاوو مرکزونه پاتې شوي دي. په زړۀ پورې خبره لا دا هم ده چې په پاکستان کښې اتڼ د پښتون ملت پالنې د مزاحمتي سیاسي مبارزې علامت هم ګرځېدلے دے او د ۱۹۹۰ د لسیزې څخه بیا تر دې مهاله د پاکستان په پښتني سیمو کښې اتڼ د سیاسي مبارزې او د مزاحمتي سیاست یو سمبول ګرځول شوے دے. .

## د اتڼ ساختیاتي جوړښت ته لنډه کتنه:

د اتڼ پر ټولنیز تاریخ د بحث څخۀ اول که مونږ د دې ټکي لغوي معنا ته ځیر شو نو به خبره نوره هم واضح شي. د اتڼ د اشتقاقي ریښې په حقله یو قیاس د استاذ سید خیر محمد عارف صاحب دے،چې تر ډېره حده مونږ ورسره اتفاق کولے شو: هغۀ لیکي

"اتڼ په لغوي لحاظ (هته) او نسبتي (ن) څخۀ جوړشوے دے، (هته) لاس او ښنګل ته وائي ، په اتڼ کښې لاس او ښنګل زیات فعالیت ښکاره کوي، ځکه ورته اتڼ وائي"(۶)

د رقص،اتڼ او نڅا د لرغوني تاریخ څخه هم د دې خبرې سپیناوے کېږي، ولې چې د تاریخ په اوږدو کښې انسانانو خپل احساسات په مخصوصه وزم، آهنګ او ریدهم (Rhythm)کښې څرګند کړي دي. لکه څه ډول چې شعر د ژبني علامتونو، تشبیهاتو، استعارو، اشارو او کنایو یو مکمله معنوي نظام تشکیل کړ او انسان ئې د ژبې او لفظونو (ټکو) د خوند او ذائقې سره بلد کړل، هم دغۀ ډول د نڅا ، رقص او اتڼ تخلیقي اظهار د جسماني اعضاوو و زېر وبم ته جلا ژبه و بخنبله. د اتڼ او هتڼ د نسبت څخه دا خبره غبرګېږي چې په لومړي ځل انسان د رقص یا اتڼ لپاره د نورو اعضاوو پرته د خپل لاسونو د پړکا څخه کار اخیستے دے . په زړۀ پورې خبره دا هم ده چې د اتڼ د دې توضیح اطلاق د بلوڅي پر معروفه اتڼ "چاپ" هم کېږي. "چاپ" په بلوڅي کښې د لاسونو یا خپړو و پړکا ته وئیل کېږي(۷).

د دې پرته د سهیلي پښتونخوا او د افغانستان ځینو سیمو کښې د اتڼ لپاره ځینې نور نومونه هم کارول کېږي، سید خیر محمد عارف صاحب په خپل یاد شوي کتاب کښې د اجتماعي اولسي رقص

د متبادل ټکي لپاره امې، لوبه، لبه، ولبه، هکله، بلبله،او چکچکائے راوړي دي (عارف؛ ۲۰۰۵؛ ۳۹) چې په بېلا بېلو سیمو او لهجو کښې د اتڼ لپاره کارول کېږي. نو لومړۍ خبره چې زمونږ و مخته راځي هغهٔ دا چې اتڼ په ساختیاتي توګه د آوازونو د زېر و بم د ترتیب سره د حرکت کولو یو اجتماعي هنري عمل دے کوم چې د وخت، ځاے او معاشي او ټولنیزو حقیقتونو د بدلون سره بدلېږي. ډاکټر ببنن چې د رقص پر تاریخ ئې بشپړهٔ کتاب لیکلئ دے ، هغهٔ د رقص په حقله لیکي:

“Dance is an intellectual, physical and sensorial response to experiences of the world.” (۸)

ژباړهٔ : نڅا د ژوند د دانشورانه، جسماني او حسي تجربې نوم دے .

اتڼ چونکه د پښتونولۍ د روایت یو اجتماعي تخلیق دے ځکه په ټولنه کښې اتڼ ته د یوه هنر په څېر کتل کېږي، البته د اتڼ او نڅا تر منځ چې کوم ټولنیز توپیر دے هغه پر خپل ځاے یو جلا او مهمه موضوع ده. خو دومره ده چې د سهیلي پښتونخوا په ذیاترو سیمو کښې لکه څهٔ ډول چې د آرټ او هنر هغهٔ ټول ډولونه معیوب ګڼل کېږي چې د ټولني د اجتماعي کلتور برخه نه دي، هم دغهٔ ډول دلته د نڅا په حکله هم ترینګلے احساس وجود لري. سید خېر محمد عارف په خپل کتاب د اتڼ نارې کښې لیکي:

"که څوک و یوه ښه اتڼ بازته دا و وائي چې ته ښه رقاص ئې نو دا یوه ښکنځا (معیوبه خبره) ده"(۹)

عارف صاحب د دې علت دا ښئي چې رقص او نڅا د جنسي لمسون پیلامه ګرځي او اتڼ مذهبي او عسکري جذبات راپاروي، ځکه پښتانه ورته قبولیت ورکوي. که څه هم استاذ عارف صاحب اتڼ زښت د ټولني د عسکري ضرورت یو هنري پیلامه ګڼي خو داسې شاهد نه وي او د هغهٔ د دې اند سره تر ډېره حده اختلاف کېدلے شي.

د نارینه او ښځېنه ګډلرغونے اتڼ: کمره ، ګډه یا برګه امې.

د اتڼ ببلا ببل ډولونه مختلفو محقیقنو لکه علي محمد سوبمن، سید خیر محمد عارف، استاد سیال کاکړ،حبیب الله رفیع ، ننګیالے بخرکے، قدوس دورارنے،ځوان څېرونکے عمران خان، اظهار الله اظهار، او نورو فوکلورستهانو بیان کړي دي. د ښځېنه او نارینه اتڼونو تر منځ په عمومي توګه ډېر توپیر نه دے بیان شوے. په پښتني سیمو کښې ذیاتره اتڼونه د قبیلو په نومونو یادول کېږي، لکه د برېڅو اتڼ، کاکړي اتڼ، د ناصر، سلېمانخیلو، وردګو، وزیرو، موساخیلو، لنډه دا چې د لر او بر وطن په ذیاترو سیمو کښې د لرغوني آرټ دغه تخلیقي بڼهٔ د لږ یا ډېر تفاوت سره خپل وجود سالم ساتلے دے. البته د پښتنو په سیمو کښې ځینې داسې مخصوصه سیمې هم شته چې د دې تاریخي او روایتي لړۍ کړیاني پرې شوي دي او دمخصوص کلتوري عمل په نتیجه کښې دلته انفرادي نڅا او ګډا خو وجود لري، البته اتڼ چې د اجتماعیت او ګډون پر اصول بنا دے، دلته ئې وجود نه دے

مونډلے. ځوان محقق عمران خان په خپل یوه انګریزي مضمون کښې و دې خبرې ته داسې اشاره کړې ده:

"It is important to mention that *Attan* is not indigenous to all Pashtun areas. This "*Attan*-less" zone includes almost all of the northern districts of Khyber - Pakhtunkhwa (KP) in Pakistan i.e. Peshawar, Mardan, Charsadda, Dir, Malakand etc and also the tribal agencies of Khyber, Mohmand, and Bajaur."(10)

ژباړۀ:

"دلته دا خبره یادول پکار ده چې اتڼ و ټولو پښتني سیمو لرغونے دود نه دے . یوه پوره ساحه داسې ده چېرې چې دغۀ روایتي رقص شتون نه لري، په دې کښې د خیبر پښتونخوا شمالي ضلعې لکه پېښور، مردان، چارسده، دیر، مالاکنډ، او د پخوانۍ فاټا خېبر ،مهمند او باجوړ سیمې شاملې دي".
د دې څه علت کېدئ شي او د نورو پښتني سیمو څخه د دې سیمو خصوصیات څله بېل دي؟ دا پوښتنه و یوې منظمې ایتناګرافي او تاریخي څېړنه ته اړتیا لري. البته په دغو سیمو کښې د ګډا دود شتون لري، ګډا د نڅا یا ناچ انفرادي عمل وي چې پکښې یو، دوه، یا درې نارینه یا ښځینه نڅا کوي او باقي مانده ټوله خلګ ئې ننداره کوي. د پښتنو هغۀ سیمې چې پکښې اتڼ وجود لري، هلته "نڅا" څه خاص ټولنیز قبولیت نه لري، ولې چې د نڅا سره په ځینو سیمو کښې د پېښه ورو نڅاګرو (ناچګرو) ښځو نسبت تړل شوے دے ، دغه ناڅګري چې په عمومې توګه په پښتني ټولنه کښې د یوې "ټیټې ټولنیزې ډلې" په صفت ژوند کوي، او باقي مانده پښتانه ئې هغۀ ډول په ټولنیز عمل نه راګډوي لکه نور پښتانه، ځکه د تاریخي عمل په اوږدو کښې دغۀ عمل "نڅا" د ناچګرو تر ټولنیزې ډلې پورې محدود ګڼل شوے دے.
خو د اتڼ په حقله یوه خبره البته جوته ده چې د یوې سیمې یا قبیلې نارینه چې کوم اتڼ کوي هم هغۀ اتڼ ښځینه هم کوي. په ځینې سیمو کښې د ښځو انفرادي نڅا، یا ګډا د لرغونې وخت څخه د رواج برخه پاتې شوې ده. البته د علي محمد سوبمن په خپل کتاب "فوکلوري ګېډۍ" کښې د واده په مراسمو کښې د یوې پېغلې د ګډا او د هغۀ سره د نورو ښځود سندرو منظر څه داسې بیان شوے دے.
"د خېښو له خوا یوه پېغله ځان ګډا ته جوړوي، او د پام سروکۍ وائي،نوري چې غبرګې غبرګې ټېپې ورسره اچوي او په زړۀ وړونکي خوندور غږ سندري وائي. دا پېغله په ځینو شپږو کښې د خینښي او کورښو په منځ کښې درېږې او د شاعرۍ ښه پېدا کوي"(۱۱)
د دې علاوه د پښین، کندهار او قلعه عبدالله په سیمو کښې ښځینه و مخصوصه انفرادي نڅا "شله" هم وجود لري چې کړۀ وړۀ و کتک نڅا ته ورته دي. خو داسې اتڼ چې پکښې نارینه او ښځینه د بې څه توپیره ګډون کوي، یواځې د ژوب د تاریخي ناوې او د وزیرستان تر ځینو سیمو پورې محدوده

پاتې شوے دے. ودغۀ مخصوصه اتڼ ته په بورې، قلعه سیف الله، سنځاوی، موساخېل، ژوب او شېراني کښې ورته کمره امی، ګډه امی، یا برګۀ امی وئیل کېږي او په وزیرستان کښې ورته برګۀ اتڼ وئیل کېږي.

د سهیلي پښتونخوا دغه سیمې چې دا مهال په انتظامي توګه په ژوب ډویژن کښې پرېوځي،د ګډې امی یا برګې اتڼ ژوندے نخښې نښانې اوس لا هم لري. خصوصا هغه سیمې چېرې چې د جدید ټیکنالوجی او رسمي تعلیم اثر و نفوذ نشته یا د اوسني وخت مارکېټ اکانومي نه ده رسېدلې اولس اوس هم د لرغوني کلتور د هغۀ روایاتو سره ژوند کوي.

## د برګې یا کمرې امی تاریخي پس منظر:

د کمرې یا برګې امی په حقله که څه هم مونږ ته په لیکلي ډول لږ مواد په مخۀ راځي خو بیا هم په زړۀ پورې خبره دا ده چې دا د سهیلي پښتونخوا ، د وزیرستان دغرونو او د سلېمان غر په لمن کښې د ابادو بلوڅو قبیلو کښې یو داسې بېل کلتوري رنګ دے چې په نورو سیمو کښې نه تر سترګو کېږي. په دې حقله چې کوم لیکل شوے مواد مونږ له په مخه راځي هغۀ د یوه برتانوي ختیځ پوهه ، جاسوس او انګریزي افیسر لیفټیننټ آرتهر کنولي لیکنه ده چې د خپل اوږدې سفرنامې په دویم جلد کښې ئې د کاکړو د کوچیاني ژوند په حقله دهغۀ سفر د ملګري پیر معین الدین شاه څخه ځېنې تفصیلات اوریدلي دي. کله چې آرتهر کنولي د ستري لو بي)(Great Game) په ترڅ کښې د هیرات څخه د هندوستان و لورته را ستنېږي نو په دې اوږده سفر کښې ورسره پیر معین شاه د پښتنو د کلتور په حقله ډېر معلومات ورسره شریکوي. په خپل کتاب کښې آرتهر کنولي د کاکړو په ځینو سیمو کښې د برګې یاکمرې امی ذکر داسې کړے دے :

“Or he would relate how among some of the Cawker clans the manners were so free, that at evening men and women would meet unreservedly, join hands in circles, and together dance the intoxicating Attun”(12)

ژباړۀ:

یا خو به هغۀ د کاکړو د یوې قبیلې د دود دستور خبره کوله ، چېرې چې نر او ښځې د شپې ملاقات سره کولو، لاس په لاس کښې دغۀ ځوانانو او پېغلو یوه دائره جوړوله او بیا په سحر انګیزه اتڼ کښې ورکېدل".

آرتهر کنولي دغه سفر په کال ۱۸۲۸ کښې کړے ؤ او په کال ۱۸۳۸ کښې چاپ کړے ؤ، د دې څخه یوه خبره دا را جوتېږي چې د کاکړ خراسان، یا توبه کاکړی چې د کاکړو سیمو وروستے حد دے ، هلته په کوچیاني ټولنه کښې د دې دود یادونه مطلب دا چې په کوچیانی ټولنه کښې چې چېرې د ښځې تګ راتګ باندې ډېر قدغنونه نه وي لګول شوي، هلته د نارینه او ښځېنه په یوه اتڼ کښې

لاس په لاس ګډون هم چنداني د حیرانتیا خبره نۀ ده.
همدغه ډول کله چې مونږ د شلمې صدۍ په اولو کلونو ریکارډ ته ځیر شو نو دلته مونږ د بوري (لورالائي) په ګزېټېئیر کښې د کاکړو (حمزه زئي) د برګ اتڼ نخښې په لاس راځي چې د پښتنو سره سره به هندو انجونو هم ګډون پکښې درلود.

"In British days mixed dances, in which Hindu males and female took part with the *Hamzazai* women and men at Mekhtar on the occasion of marriages and births, were not uncommon but they are not falling into disuse".(13)

ژباړۀ:
د انګرېزانو په وخت کښې به ګډ اتڼونه کېدل په کوم کښې چې به د نارینه او ښځېنه هندوانو د مېختر د حمزه زیانو سره ګډون کولو. دغۀ اتڼونه به د واده او د کوشنیانو د زېږون په وخت کښې کېدو.
د نارینه او ښځېنه دغه ګډ اتڼ به یواځې د کورنۍ یا د کهول او ټبر د نارینه او ښځېنه تر مېنځ نه وَ بلکه په دې کښې د ګډون لپاره د هري سیمې، هر ځوان او هري پېغلې ګډون کولے شو. د اتڼ د نارو او د کاکړۍ غاړو باقاعده ځینې فورمونه د امۍ یا اتڼ لپاره مخصوص وو، د دغۀ اتڼونو ننداره هر چا کولے شوه، او داسې هېڅ یو بندیز نه ؤ چې بېګانه کس یا په واده کښې راغلي ورابانې یا مېلمانه په دې کښې ګډون یا د دې ننداره نه شي کولے. دغه مخصوص اتڼ د کوز بوري د مرمه خېلو – سنزرخیلو په سیمه کښې د کال ۱۹۸۵پوري لا په خپل اصلي حالت کښې مشاهده شوے دے، عزیز لونړے چې هغۀ وخت د بوري (لورالائي) کمشنر پاتي شوے دے په خپل خودنویشت کښې د دې اتڼ ذکر څۀ داسې کړے دے.

*''پشتونوں میں قدیم زمانے سے گڈامئ مخلوط ڈانس کا رواج موجود تھا جو کہ کچھ دیہاتوں خصوصا'' برنیمہ'' میں ابھی بھی مکمل طور پر ختم نہیں ہوا'' (۱۴)*

ژباړۀ: په پښتنو کښې د پخوانۍ زمانې څخه د ګډې امۍ یعني مخلوط رقص دود موجود ؤ، کوم چې دلته په خصوصي توګه په "برنیمې" کښې لاختم شوے نه ؤ.
په زړۀ پوري خبره داهم ده چې لوړ یاد شوي ځوان محقق اظهار الله اظهار په خپل یوه انګریزي مضمون کښې په شمالي وزیرستان کښې د کمرې امۍ چې هلته ورته برګے اتڼ وئیل کېږي، دشتون ذکر کړے دے . د بلوڅي ادب او فوکلور پوهاند ډاکټر ساجد بزدار د خپلي قبیلې د سردار هم دے ، په خپل کور کښې دګډې امۍ منظرداسې راته بیان کړو.
"زما مور پښتنه ده او زه د یوې بلوڅي قبیلې د سردار زوے یم ، په هلکوالي (۱۹۸۰) کښې مې یاد شي چې زمونږ د کور هېڅ یو واده یا خوشحالي به هم د "دهریس"، " هموٗ" یا "چې شي چې" د اتڼونو پرته نه تر سره کېده. دغه درې واړه اتڼونه مخلوط هم وو او جدا هم ،البته داخبره د یاد وړده چې

زمونږ په دې اتڼونو کښې به د بوري کاکړانو هم ګډون کولو او دا به هېڅ عار یا پېغور نه ګڼل کېدے، دغۀ اتڼونه د ځوانانواو د پېغلو د مسابقت او د هغوے د صلاحیتونو د اظهار زبردسته اظهاري وسیلې وې". (Buzdar. Prof Dr Sajid, personal communication, January۲,۲۰۲۱)
د ډاکټر ساجد بزدار د دې اند په سوب دوې خبرې نورې روښانه شوې ، یوه دا چې دلته هم اتڼ ته "همو" وئیل کېږي او دغۀ نوم "همې یا امې" ته بیخي ورته دے، او دا هم و اتڼ ته د حرکت او نظم ورکولو لپاره اتڼ چیان یا په دائره کښې ولاړ نور کسان له خولې څخه باسي. د بزدارانو دغۀ اتڼ به د "هئ هم مو" پر رېغونو حرکت او خوځښت کولو. دویمه خبره دا چې دلته چې کوم دویم ډول اتڼ دے هغۀ ته "چې شي چې" وئیل کېږي هغه هم د دې مخصوص آواز په سوب دے . معنا دا چې تر دې دمه چې مونږ د اتڼ، یا امې کومه اشتقاقي ریښه موندلې ده دهغۀ نېغ د اتڼ د کاشن یا په اتڼ کښې هغۀ رېغونه سره تعلق وي چې د اتڼ ټوله عمل ته نظم ورکوي. په بلوڅو کښې هم و انفرادي نڅا ته په کښته سترګه کتل کېږي،البته یوه داسې نڅا شته چې پکښې دوه کسان د تورو سره ګډون کوي، کوم چې د پښتنو و خټک رقص ته ورته دے، او دغه نڅا دجنګي مهارت او قبیلوي غیرت نخښۀ ګڼل کېږي.

## په کمره یا برګه امې کښې د ګډون اصول:

لکه څۀ ډول چې اتڼ د ګډون پر اصول (Principle of Inclusion) کاربند وي، هر کس پکښې ګډون کولے شي، عن تر دې چې د اتڼ په شا کې په عمومي توګه کوشنیان او نوي اتڼ چیانو ته د زده کړې لپاره ځاے ورکول کېږي. خو دغۀ اصول د کمرې امې یا برګ اتڼ پر پدیده (مظهر) کم تطبیق کېږي، ولې چې په کمره امې کښې یواځې هغۀ کسان، ځوانان، پېغلې او ښځې ګډون کوي کوم چې دخپلې سیمې نامې اتڼ چیان یا امې کونکې وي. د دې پرته د دې ګډونوالو دفي البدیع شاعرۍ، په لوړ وزم د اتڼ د نارو کولو صلاحیت هم د یاد وړ دے.
د دې پلټنې په ترځ کښې چې کوم معلومات راغونډ شول د هغه له رویه چې د سنځاوۍ، موسا خېل، بوري، مېختر، مرغۀ کبزئے او ژوب په سیمو شا وخوا سیمو کښې د نن څخه څلویښت کاله پخوا د نارینه او ښځېنه دغۀ ګډ اتڼ د اولسي کلتور یوه ژوندۍ برخۀ ؤ، خو ورو ورو بیا دغۀ عمل د ښارګوټو څخه د لیرې لیرې کلو ته ټېل وهل شوے دے او دلته په خصوصي توګه د ترقۍ د نویو معاشي، تعلیمي او ابلاغي اوزارو په سوب دغه عمل معطل شوے دے یا بیا کمره امې یله تر کلیو، کهولونو او کورونو پورې محدوده پاتې شوې ده. اظهار الله اظهار چې په وزیرستان کښې ئې د برګ اتڼ پر تاریخ ،څرنګوالے او اوس مهاله حالت باندې یو په زړۀ پورې تحقیقي مضمون د انګریزي ورځ پاڼې "ډان" لپاره لیکلے دے په هغۀ کښې ئې د هغو ښځوسره مرکې کړې دي چې په دې برګې اتڼونو کښې ئې پخپله ګډون کړے دے. هغۀ د یوې شپېته کلنې ښځې ځواب داسې راوړے

دے.

"We were among hundreds of men but no one dared to disrespect any female, Some of the participants would smoke cigarette during the dance, and the women had no prescribed dress-codes such as the shuttlecock *burqa…*The women used to perform Attan with bare heads, or simply a Chaddar draped on the shoulders." (15)

ژباړه:

مونږ به د سلګونو نرانو په مېنځ کښې اتڼ کولو، خو هېڅ يوه کس دا جرائت نه شو کولے چې هغهٔ دي يوې ښځې ته په سپکه وګوري، ځينو اتڼ چيانو به د اتڼ په دوران کښې سګريټ هم ځکولو، په اتڼ کښې د ښځو لپاره هېڅ داسې مخصوصه جامه لازمي نه وه لکه چې هغوي به چادري (برقه) اچوي ... ښځو به په لوڅ سر هم اتڼ کولو او يا به ئې بيا ټيکرے (پړونے) او اوږو پروت ؤ".

د پښتو ژبې شاعر او فوکلورسټ شهيم کاکړ وائي چې کاکړان چونکه کوچياني وو نو په هغوی کښې به د کمرې امې رواج ذيات پاتې شوے وي، د ژوب په شاه و خوا سيمو کښې د دې اتڼ د خورېدو بنيادي لامل هم دا دے چې د دې سيمو د قبيلو تعامل د کاکړو سره ذيات ؤ کوم چې به په دوبي خراسان (توبه کاکړي، قلات خلجي،ناوهٔ، بادينے) ته کوچېدل، او په ژمي به د بيا و خپلو مينو ته بېرته را کوچېدل. د هرې قبيلې، ذيلي قبيلې، کهول، او ټبر ځاے به معلوم ؤ چې ورته "ميلن" به وئيل کېدل، ځکه دلته د کمرې امې سره سره د کلتور نورې ځانګړنې هم خورې شوي دي.د سهيلي پښتونخوا د يادو سيمو خصوصا د ژوب د ناوې دغه کوچيانے ژوند او د هغهٔ ژوند رند او روند په خصوصي توګه د اتڼ د نارو او د کاکړۍ غاړو يو بنيادي تهيم پاتې شوے دے. (Kakar. Mr. Shahim, personal communication, January ۳ ,۲۰۲۱)

## د کمرې امې ځاے او وخت:

د سهيلي پښتونخوا د بېلا بېلو سيمه د فوکلورسټانو له قوله چې په هره سيمه کښې به د امې لپاره ځاے بېل ؤ، که به چېرې کور ډېر لوے ؤ نو هم هلته په کلا کښې به دننه امې کېدله، خو د پخوانې دور امياني به په باقاعدګۍ سره پر هغو مېدانونو کېدلې چې مونږ ورته په عام توګه د اولسي تعامل ځايونه ( Public Spaces)وئيلے شو، لکه د لوبو مېدان، د مېرو، بيزو د رمولو مېدان، د جار (باغ) په مېنځ کښې د ناستې يا لوبو ځايونه.

مسرور موساخېل چې د ژوب او موساخېل په سيمه کښې ئې ژوند کړےدے له نن څخه ئې اته ويشت کاله پخوا د کمرې امې مشاهده کړې ده، هغهٔ وائي چې، "په کمره امې کښې به بې د څه توپيره ځوانانو او پيغلو ګډون کولو، دغهٔ امې به عموما د شپې له واره کېدله، د کوم کور کره چې به

ښادي وه هلته نژدې ډګار يا مېدان به د امۍ لپاره و بارل شو، د شپې به ئې اوور بل کړ او بيا به د نارينه او ښځينه ورباندې را چورلېدل او امۍ به ئې کوله". (MosaKhail, Mr. Masroor, personal communication, Feb ۲,۲۰۲۱)

د سنځاوۍ ځوان شاعر او ليکوال مطيع الله اميد هم د امۍ او د وور تر مېنځ يو نه شليدونکے تړون بيان کړے دے، هغهٔ وائي چې وور به بل ؤ او شاوخوا به نارينه او ښځينه ګډ په اتڼونو کښې مشغول وو ، په دې کښې په ډېر وخت ډزې (ټکان) هم کېدلې، په کمره امۍ کښې د نارينه تر اتڼ ذيات ټکونو کېدل، دنارينه او ښځو تر منځ به د غاړو او نارو مقابلې هم وې،اواکثره به نندارچيانو د ښو اتڼ چيانو پر سر و ډولزن ته روپۍ ډالۍ کولې. (Omid. Mateeullah, personal communication, January ۱۲,۲۰۲۱)

استاذ خيرمحمد عارف چې په بوري (لورالائي) کښې د ډېرو اميو (اتڼونو) برخه وال او عيني شاهد پاتې شوے دے وائي چې د کمرې امۍ بنيادي روح د نارينه او ښځينه تر مېنځ مسابقت يا سيالي وه،هغهٔ ؤ وئيل:

"په دې اتڼونو کښې به هر هغهٔ ځوان او انجلۍ ګډون کولے شو چې د اتڼ هنر او استطاعت به ئې ډېره ښهٔ ؤ، اتڼ نارې، کاکړۍ غاړې، ماتې غاړې او غرض دا چې د غاړو بېلابېل ډولونه به ئې هم ياد وو او هم به ئې د في البديع (Extempore) شاعرۍ ښه ملکه درلوده، په ځينو حالاتو کښې د نارينه او ښځو تر مېنځ سيالي يا مقابله وه، يا به بيا د هلک او انجلۍ جوړياني جوړې شوې او د دې جوړېانو تر مېنځ به سختې مقابلې وې. کله چې به امۍ (اتڼ) په زور کښې شوه نو ګډون والو به د ښهٔ اتڼ چيانو (نارينه، ښځېنه نه) پر سر و ډولزن ته روپۍ يا بل څه ډالۍ کړې، په دې لړ کښې به ځينې وخت يوې ونجلۍ د يوه ځوان يا سرې پر سر خپل امېل، جارۍ، کنګڼ، يا د ګېڼې بل زېور و ډلوزن ته ډالۍ کړ، د دې وروسته به بيا د هغهٔ کس دا زمه واري وه چې ډولزن ته څومره روپۍ يا بل څه ورکولے شي چې هغهٔ ډالۍ ورڅخه واخلي او بېرته ئې هم هغهٔ انجلۍ يا ښځې ته و رکړي،که داسې ونه کړي نو دا و نارينه ته يو پېغور جوړېږي ". (Arif. Syed Khair Muhammad, personal communication, April ۲۱,۲۰۲۱)

د کمرې امۍ وخت به د شپې ؤ، او ځينې وخت به د ورا بانړو او کليوالو تر مېنځ هم دامۍ مېدان تودشو چې په کوم کښې به په خصوسي توګه د ورابانړو نارينه او ښځې د خپلو مېلمنو سره د امۍ مېدان ته راوتلې، البته د ورا په ورځ د ناوې د کورنۍ لخوا په اتڼ کښې ګډون عيب ګڼل کېدے، خو د کليوالو او ورابانړو تر مېنځ به دغه مېدان تود شو. د سنځاوۍ شادين په خپله مرکه کښې ؤ وئيل چې د کوټې د بلوڅو ورا سنځاوۍ ته راغلې وه، نو دلته د ورابانړو او کليوالو تر مېنځ چې کومه امۍ وشوه هغهٔ تر ډېره وخته د يادولو ده، ټوله ښار د دغهٔ امۍ ننداره کوله، او ډېره مسته امۍ شوې وه، نن ئې هم خلګ يادوي". (Dummar. Shadin, personal communication, January۲, ۲۰۲۱)

کمره امۍ په عمومي توګه د واده په لومړۍ شپه یا دربمه شپه د کاوین (نکاح) کښلو او مړۍ خوړلو وروسته کېده. خو ځینې وخت به داسې هم وشو چې کله به ورا راغله نو هغهٔ وخت به هم ورابانۍ د ښځو واتڼ ته ناست وو. ددې سره به د بل ځاے ښځه راغلې مېلمانهٔ، او خېښان هم د امۍ برخه وال وو، خو دا خبره جوته ده چې په زیاترو سیمو کښې به کمره امۍ د شپې له واره کېدله. ملک فضل رحیم د کمرې امۍ د خپلو سترګو لیدلے منظر څه داسې بیانوي:

"په کمره امۍ کښې به نابلده مېلمانه مخ ته ول، د کلي او کهول هلک او انجلۍ به البته څنګ پر څنګ سره روان ؤَ په امۍ/اتڼ کښې به هم هغهٔ نارې (غاړې) کېدې کومې چې په عمومي توګه د اتڼ نارې بلل کېږي، په دې حکله به هېڅ داسې مخصوصې نارې نه وې، خو دا خبره جوته وه چې په دې اتڼ کښې به هغو نرګاړو او ښځو برخه اخیسته چې د اتڼ د هنر او د غاړو سره د بلدتیا سره سره به ئې د اوږده اتڼ کولو دم (ستېمنا) هم درلود". (Kakar. Malak Fazal Rahim, personal communication, February ۱۱,۲۰۲۱)

## د کمرې امۍ د ځینو غاړو نمونې:

کـه څه هم په کمره یا برګه امۍ کښې به د اتڼ هم هغهٔ نارې وې چې په عمومي توګه په نورو اتڼونو کښې کېدلې، البته د سهیلي پښتونخوا په یادو سیمو کښې چې به کومه امۍ کېدله په هغهٔ کښې به د اتڼ ذکر هم موجود ؤ. د بېلګې په توګه دا لاندینۍ نارې راوړل کېږي، خو دلته د مقالې د لنډون په خاطر د دې نارو تر وضاحت یا تشریح تېرېږو.

ټک وهئ لاسونه اې بې درده انجونو وخورئ مړوندونه
نن لاد پلار کوردے بله (بیا) به کښېوځئ د موزیانو[1] په لاسونه (۱۶)
دهنده دهنده دهنده لیلا اتڼ وهي راغلګي نن ده
پر مځکه ئې درزا ده پر اسمان کښې ئې د خاورو مرغسن ده (۱۷)
اتڼ مې د بورې نجونه کوینه
پر ملا کړې ورې سې امېل ئې د نامه غتې وهینه (۱۸
ټال ده په لمنه دې ژنګورې[2]
راځه په امۍ کښېوزه ژنګ درپورې دے، ځوانان ګورې له لیرې (۱۹)
انجونه ده لوئېږې په تا څه کړې انجلۍ چې نه لوئېږې

---

[1] موزې معنا دوښمن، د ژوب د سیمې په شعري فوکلور کښې "موزې" په عمومي توګه ود شوې ښځه د خپل مېړهٔ یاخاوند لپاره کاروي، بشر پوهه فیرسن د مریانو د بلوڅي قبیلې په فوکلور کښې هم دغهٔ ماده را ایستلې ده چې ود شوې ښځې خپل مېړهٔ د موزې په صفت یادوي.

[2] ږنګورې، د لمنې د ږنګ غوړپاسه لرونکې دانې د ژوب په ناوه کښې د ښځو د روایتې جامو یوه برخه

راځه په اتڼ کښېوزه مور ده نه ده شین آسمان چې به نړېږي (۲۰)

دا د اوس زماني انجونه د زائیپو[۱] رنګه ئې وچ دي هوسونه
نه به امی وکي نه به واچوي پر پلستو[۲] لاسونه (۲۱)

پائله:

د برګ اتڼ، کمرې امی یا ګډې امی دغه لرغونے هنري پانګه د پښتونولی د روایت یو داسې اړخ زمونږ و مخته را ګرځوي چې هغهٔ په عمومي توګه نه خو د اوس مهاله بشرپوهانو نظر ور اوښتے دے نه د پخواني دور هغو ختیځ پوهانو ورته څۀ اشاره کړې ده چې دلته د بشرپوهانو او ایتناګرافرو (نسل پوهان) په توګه راغلي وو. د دې اتڼ د جوړښت، په دې کښې د نارینه او ښځېنه د برابرۍ او مسابقت پر بنیاد ګډون او د دې اتڼ ټولنیز جواز دا خبره جوته وي چې د پښتونولی په روایت او د یادي شویو قبیلو په ټولنیز نظام کښې تر ډېره حده پوري داسې ګنجائیشونه وو چې د نارینه او ښځېنه تر منځ به ئې د سماجي روابطو سره سره د اتڼي هنر د اظهار پوره پوره مواقع ورکولې. د دې مقالې لپاره چې کوم معلومات راټول کړل شول هغه د پښتني ټولنې او کلتور د تاریخ د را سپړلو په حقله زمونږ تر ډېره حده مرسته کولے شي.

د ژوب د ناوې، د کوه سلېمان د لمني د پښتنو او بلوڅانو او د وزیرستان په فوکلور کښې بیخي ډېره تنوع او رنګارنګي مونږ ته په نظر راځي. د هغهٔ یواځینی وجه دا هم کېدے شي چې دلته د ښځې د ټولنیز تګ راتګ هغهٔ ډول قدغنونه نه وو لکه څه ډول چې د پښتنو په هغو سیمو کښې په تدریجي توګه رامېنځ ته شو چې له ډېره وخته میشته یا کلیوالي سیمې وې. دلته د کوچیاني او مېشته ژوند امتزاج یو داسې تخلیقي چاپېریال منځ ته راوړے دے چې پکښې پر انساني سطح تعامل یا راشه درشه اسانه او اړېنه وه، هم دغهٔ وجه ده چې دلته بې دریغهٔ او پربمانه اولسي شاعري شوې ده او بیخي ډېر صنفونه ئې تخلیق کړي دي.د برګې ،کمرې یا ګډې امی د ساختیاتي مطالعې او د اتڼ د نارو څخه یوه خبره په ثبوت رسېږي چې د پښتونولی د پدرشاهانه روایت په بطن کښې د ښځو د هنري همسرۍ او په کلتوري عمل کښې د هغوي د ګډون جواز تر ډېره حده ثابت موندلے دے کوم چې د پښتني روایت ترقي یافته روح را څرګندوي.

---

[۱] زائیپه د ژوب په ناوه او نورو سیمو کښې د مائنې یا مړوښې ښځې لپاره کارول کیږي، اصل دغه ټکے د ضعف څخه مشتق دے، یعني ضعیفه په ځائېه اوښتے دے

[۲] پلستی یا پلستکی د ژوب د ناوې په ذیاترو سیمو کښې د نوي ځوان (نوجوان) لپاره کاریږي.

## References:

1 ) Mangal, Sar Muhqiq Ali Muhammad (1383 Hij). Da Attan Da Naro HIndara. Danish Khprandoya Tolana , Peshawarm, P.5

2 ) Sinha, T. (2021). Reflections on Music and Dance in Ancient Indian inscription. *International Journal of Research-Granthaalayah*, *9*(4), 375-378.

3 ) Pritzker, B. (2000). *A Native American encyclopedia: History, culture, and peoples*. Oxford University Press on Demand.

4 ) Samuel *Old Testamnet* 6:14-22

5 ) Jalal Pori , Ali Abbas. (2013). Rasoomat Aqwam. Takhliqat Lahore. P.143

6 ) Arif, Syed Khair Muhammad (2005). Da Attan Narey , Pashto Academy Quetta, p.32

**7 )** Phullan, Shakeel . (2019. March 18). *The infectious Baloch Dance* . Daily Times https://dailytimes.com.pk/366502/the-infectious-baloch-dance/ Last Accessed , June 2,2020

8 ) Bannon, F. (2010). Dance: the possibilities of a discipline. *Research in Dance Education*, *11*(1), 49-59.

9 ) Arif, Syed Khair Muhammad (2005). Da Attan Narey , Pashto Academy Quetta, p.39

**10 )** Khan, Imran (2016. March 25). *Pashtun Moves*. The Friday Times https://www.thefridaytimes.com/pashtun-moves/ Last Accessed 12 August 2020

11 ) Sobaman, Ali Muhammad (1355 Hij). Pashto Tolana Da Xabpohani Sanga- Kabul , P.189

12 ) Conoly, Arthur.(1838). Journey to the North of Idia Overland from England, Through Russia, Persia and Afghansitan, London , Volume II, PP.63

13 ) District Gazetteers of Balochsitan, Edited and Compiled by Mansoor Bokhari , Gosha-e-Adba Quetta, second edition 1997, P.580

14 ) Loni, Aziz (2018). Umr-e-Aziz (Autobigraphy). Gosha e Adab Quetta. P.168

15 ) Ullah, Izhar. (2016. March 9).’Remembering a Waziristan where men and women once danced together’ Dawn Islamabad. https://www.dawn.com/news/print/1244535 Last Accessed, June 2,2020

１６) Arif, Syed Khair Muhammad (2005). Da Attan Narey , Pashto Academy Quetta, p.163

１７) Ibid 172

１８) Ibid 146

１９) Ibid 163

２０) Ibid 147

２１) Ibid 140